هیواد
ورځپاڼه

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
یکشنبه د محرم الحرام ۲۴ مه ۱۴۴۷ ق کال، د چنګاښ ۲۹ مه ۱۴۰۴ ل کال، د جولای ۲۰ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۹۵ یمه ، پرله پسې ګڼه ۷۵۸ مه، اتمه دوره

مسئولین: د افغانستان سوداګري ۱۰۰ هېوادونو ته پراخه شوې

د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي ویلي: دا مهال هېواد کې ۶۵۰۰ تولیدي فابریکې فعالیت کوي، چې ۵۷۲ قلمه توکي تولیدوي. ښاغلي عزیزي د حکومتي ادارو د لاسته راوړنو پروګرام کې ویلي: افغانستان له ۱۰۰ زیاتو توکو کې ځان بسیاینې ته رسېدلی. نوموړي ویلي: د افغانستان سوداګري څه باندې ۱۰۰ هېوادونو ته پراخه شوې او تولیز حجم يې ۱۳ میلیاردو ډالرو ته رسېږي، چې تېر کال د افغانستان له مسیر څخه ۸ میلیونه ټنه توکي ټرانزیټ شوي دي. عزیزي همداراز زیاته کړې، افغانستان ته د پانګوالو پام زیات شوی او تېر یوه کال کې له ۲ زره زیات پانګوال افغانستان ته راغلي. د یادونې وړ ده، چې دا مهال ټول هېواد کې د صنعتکارانو لپاره د حکومت له لوري ۸۰ زره جریبه ځمکه وېشل شوې، چې دې چارې افغانستان ته د پانګوالو پام را اړولی دی.

مولوي عبدالکبیر:
لوېدیځ هېوادونه دې د اسلامي امارت رسمیت پېژندنه کې ځنډ نه کوي

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر مولوي عبدالکبیر د برېتانیا شارژدافیر رابرټ ډکسن سره کتنه کې له لندنه غوښتي، چې کډوالو ته د ښارګوټو جوړولو کې دې مرسته وکړي. مولوي عبدالکبیر زیاته کړې: له ګاونډیو هېوادونو تازه ایستل شوي کډوال ډېرو مرستو ته اړتیا لري او د کډوالو د ښارګوټو په جوړېدو سره به د افغانانو د بیا کډوال کېدو مخنیوی وشي.نوموړي همداراز ټینګار کړی، چې اسلامي

امارت د افغانستان په اړه د نړیوالې ټولنې اندېښنو ته رسیدنه کړې او لوېدیځ هېوادونه نور باید د اسلامي امارت رسمیت پېژندلو کې ځنډ ونه کړي. د برېتانیا شارژدافیر له افغانستان سره د خپلو مرستو پر دوام ټینګار کړی او په خبره يې، اختلافونه باید د خبرو اترو له لارې حل او فصل شي. دا په داسې حال کې ده، چې له دې وړاندې روسیې اسلامي امارت په رسمیت وپېژاند او یو شمېر هېوادونو د دې اقدام هر کلي وکړ.

د جبري راستنېدونکو افغانانو پر لاسنیوي ټینګار وشو

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست مولوي امیرخان متقي د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ له عمومي رئیس «فیلیپو ګرانډي» سره کتلي او سره د مرستو په اړه خبرې کړې دي.
د بهرنیو چارو وزارت پر اېکس‌پاڼه لیکل شوي، چې په دې کتنه کې مولوي امیرخان

دواړو لوریو د ایران او پاکستان له خوا د جبري راستنېدونکو افغانانو پر ستونزو او له هغوی متقي ټینګار کړی چې رااېستل کېدونکو کډوالو ته دې په کوربه هیوادونو کې ... ۳مخ

میدان وردګو کې ۶ پروژې ګټې اخیستو ته وسپارل شوې

میدان وردګو کې ۶ پروژې ګټې اخیستو ته وسپارل شوې. د دغو پروژو ګټې ته د سپارلو مراسم پرون د اوبو او انرژۍ د سرپرست وزیر الحاج ملا عبداللطیف منصور، د میدان وردګو د مرستیال والي حافظ سید الرحمن، د دغه ولایت د اوبو او انرژۍ د رئیس مولوي عبدالصمد حلیم، علماوو، قومي مشرانو او یو شمېر نورو سیمه ییزو مسئولینو په شتون کې ترسره شول. د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیر په دغو مراسمو کې، نوموړې پروژې د اوبو سرچینو د پیاوړتیا، د اوبو سرچینو د مدیریت او کرنې د ودې په برخه کې ارزښتناکې وبللې. ده زیاته کړه، چې اسلامي امارت تر اوسه د هېواد او د افغانستان د خلکو په وړاندې خپل مسئولیت په ښه توګه ترسره کړی او په هېواد کې يې اسلامي نظام، امنیت، عدالت او اقتصادي پراختیا راوړې، له همدې کبله له خلکو څخه هم تمه کېږي، چې له دغه نظام څخه رښتینی ملاتړ وکړي. ښاغلي منصور یادونه وکړه، چې د اوبو او انرژۍ وزارت په میدان وردګو کې د اوبو بندونو جوړوني او برېښنا رسوني نورې پروژې هم په پام کې نیولې چې ان شاء الله په راتلونکي کې ... ۳مخ

لغمان کې د ۲ قومونو ترمنځ روغه وشوه

د لغمان ځايي مسئولین وايي چې د دغه ولایت په الیشنګ ولسوالۍ کې د دوو قومونو ترمنځ ۲۷ کلنه دښمني د دیني عالمانو، قومي مشرانو او سیمه ییزو مسئولینو په هڅو پای ته ورسېده. د الیشنګ ولسوال قاري عبدالقاهر متوکل باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې دغه دښمني د یادې ولسوالۍ په هندرا سیمه کې د میر حسن او شاه نبي قومونو ترمنځ رامنځته شوې وه، چې په کې دواړو لوریو ته ځاني او مالي زیانونه هم اوښتي وو، چې د دیني عالمانو، قومي مشرانو او سیمه ییزو مسئولینو په هڅو پای ته ورسېده.د یادونې وړ ده، چې تېره اوونۍ هم په یاده ولسوالۍ کې د شیره کي خېلو او بهرام خېلو ترمنځ یو کلنه دښمني پای ته رسېدلې وه.

د افغانستان له روغتیایي برخې سره د همکاریو پر دوام ټینګار

د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي د سره په روغتیایي برخو کې د ملاتړ او همکارۍ په اړه

افغانستان لپاره د برېتانیا شارژدافیر رابرټ ډیکسن خبرې وکړې. د عامې روغتیا وزارت ویلي: دې کتنه کې د افغانستان د روغتیایي سیستم د ښه والي، د روغتیا وزارت د لومړیتوبونو، د روغتیایي کارکوونکو د ظرفیت لوړولو، د روږدو، د سرطاني ناروغیو او د مور او ماشوم د روغتیا برخه کې په ملاتړ بحثونه شوي. په دې کتنه کې ښاغلي جلالي د افغانستان لپاره د برېتانیا له نوي ټاکل شوي استازي ریچارډ لینزي څخه د روغتیا برخو کې د ملاتړ غوښتنه کړې.لینزي د خپل هېواد د ملاتړ او همکارۍ ډاډ ورکړی.

دیدار معاون ولایت بلخ با مسئول سیاسی سفارت آلمان در افغانستان

مولوی نورالهادی ابوادریس، معاون ولایت بلخ، با رولف رینهاردت، مسئول سیاسی سفارت آلمان برای افغانستان، در مزارشریف دیدار کرد. در این دیدار، دو طرف درباره وضعیت امنیتی کشور، کمک‌های بشردوستانه، پروژه‌های انکشافی آلمان در بلخ، رشد بخش خصوصی و شرایط مهاجرین گفتگو کردند.رینهاردت هدف سفرش به افغانستان را ارزیابی وضعیت امنیتی، بررسی وضعیت مهاجرین و بازدید از پروژه‌های سازمان ملل عنوان کرد و بر ادامه کمک‌های آلمان به افغانستان تأکید نمود. معاون ولایت بلخ نیز با تأکید بر برقراری امنیت در سراسر کشور گفت: امارت اسلامی در تلاش است مشکلات مهاجرین را کاهش داده و روابط سازنده با جامعه جهانی را حفظ کند. او افزوده است که پیشرفت اقتصادی افغانستان می‌تواند بر توسعه منطقه‌یی نیز اثرگذار باشد. باختر

پنجشېر کې د زمردو د پنځو نویو کانونو د استخراج چارې پیل شوې

د پنجشېر د پریان ولسوالۍ په مربوطاتو کې د زمردو له پنځو نویو ساحو څخه د استخراج چارې پیل شوې دي.
د یاد ولایت د کانونو او پټرولیم رئیس، مولوي محمد قاسم امیري باختراطلاعاتي آژانس ته ویلي چې تر دې دمه د دوی تخنیکي او تخصصي ټیمونو د پریان ولسوالۍ په بېلابېلو سیمو کې له ۲۵۰ څخه زیات د زمردو کانونه تثبیت کړي دي. نوموړی زیاتوي ... ۳مخ

زړو مکروریانو کې ۴۰۰۰ تنو ته کونسلي خدمتونه وړاندې شوي

په کابل ښار کې د آسان خدمت د زړو مکروریانو مرکز د روان ۱۴۰۴ هجري لمریز کال له پیله راپه دې خوا ۳ زره او ۹۰۷ هېوادوالو ته د بهرنیو چارو وزارت اړوند کونسلي خدمتونه وړاندې کړي دي. د احصایې او معلوماتو ملي ادارې د یاد مرکز د عمومي مدیر ولي‌باز خان کارګر په حواله ویلي، چې یاده اداره هره ورځ نږدې ۱۰۰۰ مراجعین د برښنایي پېژندپاڼو، زېږون کارتونو او کونسلي خدمتونو د ترلاسه کولو په موخه جذبوي.
د نوموړي په وینا، په یاده موده کې ۲۲ زره او ۷۳۳ نوې الکترونیکي تذکرې، ۵ زره او ۷۱۴ زېږون کارتونه او ۳ زره او ۴۲۵ کسانو ته د پېژندپاڼو له وېش وروسته اړوند ... ۳مخ

کونړ؛ شیګل ولسوالۍ کې یو پل جوړ شو

د کونړ په شیګل ولسوالۍ کې د ۳ میلیونو افغانیو په لګښت یو پل جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.
د دغه پله د پرانیستو په مراسمو کې د کور او ښار جوړولو وزیر مولوي نجیب الله حیات حقاني وویل : ((اسلامي امارت ولس ته په عملې توګه خدمتونه وړاندې کوي، ولسونو ته خدمت پرمختګ او سوکالي مو لومړیتوب دی او په دې کمه موده کې ترسره شوي کارونه لکه د پاکو اوبو، کرنې او مخابراتي برخو کې اسانتیاوې د یادونې وړ دي)) ورته مهال د یاد ولایت د ټولګټو چارو رئیس قاري معاذ وویل: دغه استحکامي پل چې ۳۵ متره اوږدوالی او ۶ متره سور لري میلیونونه افغانۍ ارزښت لري ... ۳مخ

لوګر کې د فوټسال پیل شوې سیالۍ پای ته ورسېدې

د لوګر د بدني روزنې او ورزش آمریت مسئولین وايي، چې د فوټسال فدراسیون په همکارۍ د دغه ولایت په خرخ ولسوالۍ کې د ۳۰ غوره لوبډلو ترمنځ د فوټسال سیالۍ پای ته ورسېدې. د دغه ولایت د بدني روزنې او ورزش آمر انجنیر مزمل نعیم‌زي رسنیو ته ویلي: د فوټسال دغه سیالۍ د ولایت په کچه د ۳۰ غوره لوبډلو ترمنځ د خرخ ولسوالۍ په «مولانا یعقوبي خرخ جمنازیم» کې جوړې شوې چې یوه اوونۍ يې دوام وکړ.نوموړي زیاته کړه: د یادو سیالیو پای لوبې ته ... ۳مخ

غزني کې د ټرافیکي پېښې له امله ۴ تنو ژوند بایللی

د غزني ولایت مسئولینو د یاد ولایت په «آب‌بند» ولسوالۍ کې د خونړۍ ټکر له امله د څلورو کسانو د مړینې خبر ورکړی دی. د دغه ولایت د امنیې قوماندانۍ مسئولینو ویلي چې دا پېښه ورمه ورځ له غرمې وروسته د تودې چینې په سیمه کې د لکسل او باروړونکي موټر د ټکر په پایله کې شوې ده. د مسئولینو په وینا په لوکسل موټر کې سپاره څلور تنه د هلمند اوسېدونکي مړه شوي دي او په موټر کې يې اور هم لګېدلی دی. دا په داسې حال کې ده چې پرون په یاد ولایت کې د یوې بلې ټرافیکي پېښې له امله هم یو کس ټپي شوی دی. له تېرو نږدې څلورو کلونو راهیسې په هېواد کې ټرافیکي پېښې په کمسارې توګه زیاتې شوې، چې ستر لاملونه يې ... ۳مخ

سرلیکنه

د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ وروستۍ لیدنې د یوه رغنده پړاو پیل دی!

د هېوادونو ترمنځ د متقابل تفاهم، اعتماد او ګډو ارزښتونو بنسټیز رول، همېشه د سیمې او نړۍ ثبات ته خدمت کړی دی. افغانستان او ازبیکستان د تاریخ په اوږدو کې نه یوازې جغرافیایي ګاونډیان پاتې شوي، بلکې د تمدني، فرهنګي او دیني ارزښتونو شراکت یې هم له یوه ملت نه کم نه‌دی. د ازبیکستان د بهرنیو چارو د وزیر بختیار سعیدوف او ورسره مل لوړپوړي پلاوي د کابل سفر، نه یوازې د بین‌الدول اړیکو نوی پړاو پرانیزي، بلکې د اسلامي امارت له‌خوا د شفافو او رغوونکو اړیکو د پالیسۍ اغېزمنه نتیجه هم وړاندې کوي. دا لیدنه د افغانستان د سیاسي مشروعیت د پراختیا، اقتصادي نښلولو او د اسلامي نړۍ د یووالي پر لور یو مهم ګام بلل کېږي.

افغانستان او ازبیکستان له تاریخي پلوه ژورې اړیکې لري، چې د دواړو ملتونو ترمنځ د ورورۍ، تبادلې او فرهنګي تګ راتګ شاهدې دي. د ازبیکستان د جمهور رئیس پیغام، چې د ښاغلي سعیدوف له خولې له افغان ملت او مشرتابه سره شریک شو، یو ځل بیا دا روښانه کړه چې ازبیکستان، افغانستان د سیمه‌ییز ثبات او پرمختګ یو مهم محور ګڼي. د دې لیدنې پرمهال ازبیکستان نه یوازې د افغانستان د اسلامي امارت له هڅو ملاتړ څرګند کړ، بلکې د نړیوالو اړیکو په ډګر کې یې د رغنده تعامل او پرمختګ ستاینه هم وکړه.

یوه له مهمو لاسته راوړنو څخه د سیاسي مشورتي لیدنې تر څنګ، د ټرانس ـ افغان رېل پټلۍ د امکان سنجۍ د درې اړخیز تفاهملیک لاسلیک و. دا پروژه نه یوازې افغانستان د سیمه‌ییز ټرانزیټ او اقتصاد له مهمو کوریدورونو سره نښلوي، بلکې د منځنۍ آسیا، جنوبي آسیا او نورې سیمې د اقتصادي یووالي لپاره یو بنسټیز ګام بلل کېږي. د دغې رېل‌پټلۍ پلي کېدل به افغانستان له انزوا وباسي، صادرات او واردات به چټک کړي او هېواد ته به د ټرانزیټ له لارې پایدار عواید برابر شي.

د ښاغلي سعیدوف په وینا، تر دې دمه له سلو څخه زیاتو لوړپوړیو پلاویو د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ تګ راتګ کړی، چې دا د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکو ژورتیا څرګندوي. دا سفرونه د تفاهم فضا غښتلې کوي او پر بنسټ یې د دواړو هېوادونو ترمنځ عملي همکارۍ لا پراخېږي. د ازبیکستان له لوري د رئیس‌الوزراء لپاره د رسمي سفر بلنه، د اړیکو د لا ژورتیا ښکارندویي کوي.

رئیس‌الوزراء ملا محمد حسن اخوند د ازبیکستان او افغانستان د ورورګلوۍ پر بنسټ د ولاړو اړیکو ستاینه وکړه. نوموړي ازبیکستان له هغو هېوادونو څخه وباله، چې د اسلامي امارت له پیل راهیسې یې د تفاهم، متقابل درناوي او اقتصادي همکاریو لاره غوره کړې ده. دا تعامل د دې ښکارندویي کوي چې ازبیکستان د ستونزو د حل لاره په دښمنۍ کې نه، بلکې په تفاهم، ډیالوګ او متقابل باور کې ویني.

د ښاغلي سعیدوف څرګندونې، چې د افغانستان سیاسي ثبات، اقتصادي پرمختګ او د ژوند ښه والي ته یې دوامدارې هڅې مهمې لاسته راوړنې بللي، د سیمې هېوادونو ته دا پیغام ورکوي، چې د افغانستان وضعیت د رغونې، ثبات او پرمختګ پر لور روان دی. د ازبیکستان له لوري د نړیوالې کچې ملاتړ ژمنه، د اسلامي امارت لپاره یو دیپلوماټیک بریالیتوب ګڼل کېږي.

د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ وروستۍ لیدنې د یوه رغنده، تاریخي او ارزښتمن پړاو پیل دی. دا اړیکې نه یوازې سیاسي او اقتصادي اړخونه لري، بلکې د فرهنګي او دیني ارزښتونو ژور پیوستون هم ورسره مل دی. ازبیکستان د تفاهم، همکارۍ او ورورګلوۍ رول غوره کړی، چې د افغانستان اسلامي امارت ورته په متقابل درناوي ځواب ورکړی.

ګاونډي هېوادونه دې له افغان کډوالو سره انساني او اسلامي چلند وکړي!

شېرمحمد اميني ستانکزی

د افغانستان ولس د تېرو لسیزو جګړو، ناخوالو او سیاسي بې‌ثباتۍ له امله اړ شو، چې خپل وطن پرېږدي او نورو هېوادونو ته کډه وکړي. له دې ډلې ډېر افغانان اوس مهال د پاکستان او ایران په ګاونډیو هېوادونو کې مېشت دي.

ایران او پاکستان پخوا له افغانانو سره د ښه ګاونډیتوب او اسلامي ارزښتونو له مخې؛ د مېلمه پالنې چارې ترسره کړې. افغان کډوالو ته یې سرپناوې ورکړې، ښوونځي، کلینیکونه او نور لومړني خدمتونه یې ورته برابر کړل، خو دا مرسته تر ډېره د نړیوالو مرستندویو بنسټونو پر مټ کېدله، چې لویه برخه یې هم د همدغو هېوادونو په ګټه او خاوره مصرفېدله.

اوس، چې افغانستان د جګړو له بلاوو خلاص شوی او یو ځل بیا د رغېدو او پرمختګ پر لور روان دی، افغان ولس په دې هڅه کې دي، چې خپل هېواد بیا آباد او د ځان بسیاینې په لوري حرکت ورکړي.

خو له بده مرغه، ځینې نړیوال او ګاونډي هېوادونه لا هم هڅې کوي، چې زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنې وکړي او د بې ثباتۍ فضا رامنځته کړي.

خو الحمدلله دا ډول پلانونه د ویښ، متحد او فعال اسلامي نظام په شتون کې شنډ او بې اغېزې شوي او دا به همداسې دوام ومومي. یاد هېوادونه اوس د نویو پلمو او چلندونو له لارې خپلې سیاسي موخې تعقیبوي. ښه بېلګه یې د ایران او پاکستان له خوا د افغان کډوالو په زور رااېستل دي، چې له تاوتریخوالي، ناوړه چلند او غیر انساني برخوردونو سره مل دي. که ریښتیا هم ګاونډي هېوادونه غواړي له افغان ملت سره ښې اړیکې وساتي، نو باید

له کډوالو سره انساني، اسلامي او قانوني چلند وکړي، نه دا چې هغوی په زور او ناوړه کړنو را واېستل شي. دا کار نه یوازې د نړیوالو اصولو خلاف دی؛ بلکې د پخوانۍ مېلمه‌پالنې ټول ارزښتونه هم تر پوښتنې لاندې راولي.

په دې وروستیو کې د ایران حکومت له خوا د افغان کډوالو پر وړاندې یو لړ غیرانساني کړنې ترسره شوې، چې نه د اسلام له اصولو سره سمون لري او نه هم د بشري حقونو له معیارونو سره. سمه ده، چې هر هېواد د خپلو ملي ګټو او قوانینو پر اساس پالیسۍ لري، خو باید له بشردوستانه چلند څخه هم سترګې پټې نه شي.

تېر کال پاکستان هم د افغان کډوالو په وړاندې سخت دریځ ونیو او په پراخه توګه یې د هغوی اېستل پیل کړل. ډېر افغانان له تاوتریخوالي، بند، ځورونې او د شتمنیو له لاسه ورکولو سره مخ شول. سږ کال ایران بیا داسې ورته تګلاره خپله کړې ده.

افغانستان سره له دې، چې لا هم له نړیوالو اقتصادي بندیزونو سره مخ دی، خو سره له دې اسلامي حکومت راستنېدونکو کډوالو ته د استوګنې، خوړو او د لومړنیو اړتیاوو برابرولو لپاره تابیاوې په پام کې نیولې دي. د بېلابېلو ولایتونو په کچه د سرپناه لپاره کمپونه جوړ شوي او د نورو اړینو خدماتو لپاره هم هڅې روانې دي. افغان ولس له نړیوالې ټولنې، بشري مؤسسو او د کډوالو له چارو سره همکارو ادارو څخه غوښتنه کوي، چې له افغان کډوالو سره خپلې مرستې دوامدارې وساتي، هغوی هېر نه کړي او د بېرته ستنېدنې بهیر ته انساني بڼه ورکړي.

د رسمیت پېژندنې اقتصادي او سیاسي ګټې

سیف الله«سیار»

څه موده مخکې د روسیې حکومت د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپېژانده. که څه هم له دې وړاندې په یوشمېرهېوادونو کې د اسلامي امارت سفارتونه او سیاسي استازولۍ فعالې شوې وې او خپلو فعالیتونو ته یې دوام ورکاوه، خو له څلور کلن ځنډ وروسته روسیې د افغانستان د اسلامي امارت په وړاندې د نړیوالو سکوت مات کړ او د افغانستان د اسلامي امارت سفیر یې په مسکو کې ومانه، چې دا واقعاً د اسلامي امارت او افغان ملت لپاره د خوښۍ زېری دی. که څه هم د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په دې برخه کې خپلو هڅو ته دوام ورکړی او بار بار یې نړیوالو ته ډاډ ورکړی، چې د افغانستان خاوره به د هېچا پرضد نه استعمالېږي او له نورو هېوادونو یې هم ورته هیله څرګنده کړې ده او ویلي یې دي، چې موږ نړۍ ته او نړۍ موږ ته اړتیا لري. یو شمېر هغو بهرنیو سیلانیانو چې له افغانستان څخه یې لیدنه کړې، په دغه هېواد کې یې ډاډمن امنیت ستایلی دی او د موجود نظام

ننګه او ملاتړ کوي، خو یو شمېر هېوادونه د امریکا له اجازې پرته جرئت نشي کولی چې د افغانستان حاکم نظام په رسمیت وپېژني، خو د روسیې حکومت سبقت وکړ او د غربي ښکېلاکګرو د مکر او طلسم زنځیر یې مات کړ، چې په دې سره کېدای شي د منځنۍ اسیا هېوادونه هم د رسمیت پېژندنې دغه لړۍ تأیید کړي. له دې وړاندې د چین ولسي جمهوریت هم د افغانستان سفیر په خپل هېواد کې منلی و، چې موږ یې په سیاسي ډګر کې د افغان حکومت لویه لاسته راوړنه بولو او دا به په اقتصادي ډګر کې هم ګټورې او مثبتې پایلې ولري او په دې سره به د چین، روسیې او منځنۍ اسیا د هېوادونو ترمنځ په تجارتي او سوداګریزو اړیکو کې پراختیا رامنځ ته شي. د چین د یو کمربند یوې لارې پروژه به پیاوړې شي، د تازه مېوو او سوداګریزو توکو په تجارت او لېږد رالېږد کې به سهولتونه او اسانتیاوې رامنځ ته شي، په هېواد کې به په رغنیزو پروژو کې د هغوی په مرسته او پانګونه بې روزګارو خلکو ته د کار زمینه هم برابره شي. د بېلګې په توګه د قوشتېپې او ټاپي پروژو کې د هغوی مرسته د افغانانو لپاره حیاتي ده. د هېواد پر یو شمېر سیندونو د برښنا د بندونو جوړول د بهرنیانو له مرستو پرته ناشوني دي. زموږ ګران او محبوب هېواد د طبیعي ذخایرو او معادنو په حساب یو غني هېواد دی، خو نړیوالو استعمارګرو او یرغلګرو افغان ملت دې ته نه دی پرېښی چې له خپلو طبیعي ذخایرو څخه د هېواد په بیا رغونه او پرمختګ کې لازمه ګټه واخلي. موږ کولی شو د یادو هېوادونو له صنعتي او پرمختللو ماشین الاتو څخه د کانونو په فني توګه استخراج کې ګټه واخلو او خپل اقتصاد پیاوړی کړو ترڅو پر خپل ځان بسیا او د نړۍ له پرمختللي کاروان سره د سیالۍ جوګه شو.

د یوه ودان او پرمختللي افغانستان په هیله

زموږ ملي اقتصاد په خپله وده کوي

خالد تسل

هر هېواد د خپل اقتصاد د رغاونې ،روڼتیا او لوړتیا په خاطر بېلابېلې برنامې او پروګرامونه په کار اچوي او نه پرېږدي، چې په خپل هېواد کې بهرنیو مصنوعاتو، تولیداتو او حاصلاتو ته بازار پیدا کړي، بلکې وخت په وخت دا هڅه کوي چې خپل هېوادوال یې له خپلو مصنوعاتو څخه ګټه پورته کړي او ګټه یې یواځې او یواځې خپل هېواد ته ورسېږي . ځینې هېوادونو له همدې لارې ښه فرصت پیدا کړی او کار یې ترې اخیستی دی ، چې پر مټ یې د هېواد اقتصاد راپورته شوی دی، ځینې بیا پر خپلو هېوادوالو باندې په دې اړه دومره تشدد کوي چې آن د بهرنۍ موسیقي په اورېدلو سره ورته د مرګ سزا اوروي، لکه شمالي کوریا، چې په ورځني ډول د داسې ډېرو پېښو شاهده وي.

اکثریت هېوادونه اوس تر دې حاله پورې رسېدلي چې په هېواد کې هر کارېدونکی شی یې خپل تولید او صنعت وي او هڅه کوي چې د خپل اقتصاد د رغاونې په پلمه دغه کار ته نور هم کار وکړي او خپل اقتصاد ته وده ورکړي. افغانستان چې اکثریت حاصلات یې له مځکې وي او وخت په وخت بازار ته پخې میوې راځي او نورو هېوادونو ته هم صادرېږي، په هېواد کې هم بازارونه پرې په رنګ وي، نو اوس راځو دې خبرې ته چې زموږ خلک، ټولنه او په ځانګړې توګه ځوانان چې په ورځني ډول، په منظرو او مېلمستیاوو کې له بهرنیو توکو ګټه پورته کوي، یواځې دا نه چې د اړوند هېواد اقتصاد ته وده ورکوونکی بلل کېږي، بلکې د یادو توکو په کارېدو سره زموږ ډېر هېوادوال په لوی لاس خپل صحت او بدن ته ضرر او نقصان رسوي.

د بېلګې په توګه مشروبات چې اکثریت یې بهرنی تولید دی، د معدې د زهرو په نامه یې ډاکټران او طبیبان یادوي، نو هر کله چې د انسان د بدن کور یعنې معده فاسده شي، ټول بدن ورسره فاسدیږي، هغه څنګه؟ هغه داسې چې معده دې خرابه وي او سم هضم ونه کړای شي، نو بدن انرژي نه اخلي، بدن چې له انرژۍ محروم پاتې شو ، انسان ضعیفیږي، د انسان ضعف د ده په کارونو او بوختیاوو کې خلل پیدا کوي چې په همدې سره له ناخوالو، ستونزو او د صحت اړوند ننګونو سره انسان مخ کیږي چې خلاصون ترې ناممکن دی.

زموږ د خپل هیواد مصنوعات او تولیدات هم خورا پر مختللي او د نړۍ له نویو معیارونو سره برابر ورځ تر بلې په زیاتیدو دي، د خپل هیواد د تولید او صنعت کاروونکي یواځې دا نه چې د هیواد خیرخواه وي، بلکې له دې لارې یې د هغو مشتبهو مصنوعاتو ... ۳مخ

د ښځينه نړيوال سازمان له ايران څخه د افغان کډوالو د جبري اېستلو لړۍ وغندله

که څه هم له ګاونډیو هېوادونو پاکستان او ایران څخه د افغان مهاجرینو د بېرته را ګرځولو لړۍ له پخوا روانه ده، خو د افغان کډوالو د ربړونې، نیولو او په زور او جبر را اېستلو په اړه خواله رسنیو کې خپرې شوې ویډیوګانې ښیي، چې کوربه هېوادونو ایران او پاکستان کې له مېشتو افغان کډوالو سره د پولیسو او د دغو هېوادونو د خلکو له خوا تاوتریخوالی اوج ته رسېدلی.

د دې ډول بد چلند په غبرګون کې، د ښځینه نړیوال سازمان یو ځل بیا له ایران څخه د افغان کډوالو او په ځانګړې ډول د ښځو او ماشومانو د جبري اېستلو لړۍ غندلې او له دې هېواده یې غوښتي، چې د افغان کډوالو ډله ییز اېستل سملاسي ودروي.

یاد سازمان پر خپله اېکس پاڼه لیکلي: د ایران په شمول ټول هېوادونه باید افغان مهاجرین چې ښځې او ماشومان هم په کې شامل دي، د مشروطو پناه‌غوښتونکو په توګه ومني او بېرته یې افغانستان ته ونه ګرځوي. د ښځینه نړیوال سازمان د اعلامیې یوه برخه کې راغلي: ((په ایران کې د افغانانو د ناقانونه اېستلو پیل شوې لړۍ کې د خلکو پر کورونو چاپې، ربړونې، نیونې او د هغو کسانو جبري شړل شامل دي چې پرته له جامو بل څه نه لري. د ایران چارواکي باید سملاسي د افغان کډوالو او د هغوی، چې په ایران کې زېږېدلي دي، ډله‌ییز اخراج بند کړي.)) د ښځینه نړیوال سازمان همدارازد ملګرو ملتونو د معلوماتو پربنسټ ویلي: د ۲۰۲۵ ز کال له پیل راهیسې له یو میلیونو ډېر افغانان له ایران څخه بېرته خپل هېواد ته ګرځول شوي.

دغه سازمان زیاته کړې، یوازې د جون له لومړۍ نېټې د جولای تر ۱۸ مې نېټې پورې ۵٤۶ زره کسان چې ښځې او ماشومان هم په کې شامل دي، له ایرانه په زور او جبر اېستل شوي دي.

ایران کې دېره افغان کډواله لینا نذیز وایي: ((په دې وروستیو کې د ایران حکومت د افغان مهاجرو اخراج ته زور ورکړی. ډېر هغه افغانان چې کلونه یې ایران کې ژوند کړی، اوس مجبور دي چې د دې هېواد خاوره ترک کړي؛ هغه هم په داسې حال کې چې ډېر یې د تللو لپاره ځای نه لري. دا لړۍ ناڅاپي او له مخکې ورکړ شوي خبر پرته ترسره کېږي، ان تر دې چې د شپې له مخې د افغانانو پر کورونو چاپې وهل کېږي او پرته له دې چې خپل وسایل ټول کړي، د افغانستان سرحد ته استول کېږي. په دې منځ کې ښځې، ماشومان او بوډاګان له نورو ډېر زیانمنېږي.))

په همدې حال کې د بشر د حقونو یو شمېر فعالان له افغان کډوالو سره د ایران او پاکستان د حکومتونو چلند غندي او د کډوالۍ د ټولو قوانینو خلاف عمل یې ګڼي او له نړیوالې ټولنې غواړي، چې افغان کډوالو سره همکاري وکړي.

د کډوالو د حقونو فعال ګلاخان بهادري وایي: « نړیوال سازمانونه او په ځانګړې توګه «آی.او.ام»، «یو.ان اچ.سي.آر» او یونیسف باید د افغان کډوالو دفاع، مرستې او ملاتړ ته ادامه ورکړي.»

د کډوالو د حقونو فعال محمد خان طالبي محمدزی وایي:«باید د غو راستنېدونکو ته د بیا مېشتېدنې، ښوونې روزنې او کاروبار زمینه برابره شي. د افغانستان اسلامي امارت او ملګري ملتونه باید په دې اړه رایزنې وکړي.»

پر ایران د اسرائیلو له برید وروسته چې د روان کال د جون په ۱۳مه ترسره شو، د ایران د کورنیو چارو وزارت د افغان کډوالو د نیولو او افغانستان ته یې د جبري را ستنولو لړۍ پیل کړه. په دې موده کې نږدې یو میلیون افغانان له یاد هېواده شړل شوي او لا هم دغه لړۍ روانه ده.

افغان اعلانات

موضوع: اعلان
دعوت به داوطلبی

عنوان پروژه (تهیه و تدارک ۹۳قلم قرطاسیه باب ، لوازم دفتری و لوازم آشپزخانه مورد ضرورت تولپلازای کابل-غزنی(ارغندی - غزنی)ریاست عواید از بابت سال مالی ۱۴۰۴با استفاده از روش داوطلبی با ز ملی به اساس قرارداد بالمقطع) وزارت فواید عامه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه (تهیه و تدارک ۹۳قلم قرطاسیه باب ، لوازم دفتری و لوازم آشپزخانه مورد ضرورت تولپلازای کابل-غزنی(ارغندی-غزنی)ریاست عواید از بابت سال مالی ۱۴۰۴) دارای نمبرتشخصیه MOPW/1404/G-28/NCB میباشد اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه بعد از نشر اعلان ارائه نماید.

آدرس حصول شرطنامه از آمریت تدارکات اجناس ریاست تدارکات وزارت فواید عامه، واقع چهاراهی صدارت وزارت داخله سابقه، جوار اداره ملی احصائیه و معلوماتی روی فلش میموری بدست آورده و تسلیمی آفرها بتاریخ (۷ / ۵ /۱۴۰۴ ساعت ۲:۳۰ بعد از ظهر که آخرین میعاد ضرب الاجل تسلیمی آفر ها می میباشد، صورت میگرد آفرها دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.

تضمین آفر: به شکل بانک گرنتی/ مبلغ ۲۳۱۵۰ بیست سی هزار و یک صدو پنجاه افغانی میباشد.

زمان آفرگشایی: (۷ / ۱۴۰۴/۵ ساعت ۲:۳۰ بعد از ظهر) محل آفرگشایی: وزارت فواید عامه.

نوت: درصورتیکه تاریخ (۷ / ۵ /۱۴۰۴) ۱۴۰۴سال جاری بطور غیر مترقبه از طرف حکومت رخصتی اعلان گردد جلسه آفرگشایی پروژه متذکره روز بعد کاری در همان ساعت و مکان مندرج مکتوب هذا برگزار میگردد.

موضوع: اعلان
دعوت به داوطلبی

عنوان پروژه: (تهیه وتدارک(۵۰) قلم ادویه جات مورد ضرورت کلنیک صحیه ریاست اداری و خدمات بابت سال مالی۱۴۰۴) وزارت فواید عامه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه وتدارک(۵۰) قلم ادویه جات مورد ضرورت کلنیک صحیه ریاست اداری و خدمات بابت سال مالی۱۴۰۴دارای نمبرتشخصیه MOPW/1404/G-35/NCB میباشد اشتراک نموده و آفرهای سربسته خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه بعد از نشر اعلان ارائه نماید .

آدرس حصول شرطنامه را از آمریت تدارکات اجناس ریاست تدارکات وزارت فواید عامه، واقع چهاراهی صدارت وزارت داخله سابقه، جوار اداره ملی احصائیه و معلوماتی روی فلش میموری بدست آورده و تسلیمی آفرها بتاریخ (۰۶ /۱۴۰۴/۰۵ ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر که آخرین میعاد ضرب الاجل تسلیمی آفر ها می میباشد, صورت میگرد آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.

تضمین آفر: به شکل بانک گرنتی مبلغ ۳۵،۰۰۰ سی و پینج هزار افغانی میباشدزمان آفرگشایی: (۰۶ /۱۴۰۴/۰۵ ساعت ۲:۰۰ بعد از ظهر) محل آفرگشایی: وزارت فواید عامه نوت: درصورتیکه تاریخ ۰۶ /۱۴۰۴/۰۵ سال جاری بطور غیر مترقبه از طرف حکومت رخصتی اعلان گردد جلسه آفرگشایی پروژه متذکره روز بعدکاری در همان ساعت و مکان مندرج مکتوب هذا برگزار میگردد.

د خوست ښاروالی ریاست خبرتیا

خوست ښاروالی ریاست لمړی خوست ښار شرقي پروژه کی سرکونو دوهم ښاروالی لپاره لمریزی برښنا سیستم سیتم دریم د دریمی ناحیی تعمیر جوړولو پرانیستی داو طلبی ته د ترولو افرونو وړاندی کولو لپاره د شرایطو درلودمکو د سرک جوړولو او ساختمانی شرکتونو ته بلنه ورکوی چی خپل غوښتنلیکونه دی د اعلان وروسته تر ۲۱ ورځو پوری خدماتو او تدارکاتو مدیریت ته وسپاری شرطپانه ترلاسه کولی شی تضمین نغد اخیستل کیږی د لازیاتو معلوماتو لپاره کولی شی چی پدی شمیره ۰۷۷۸۸۴۴۳۸۸ اړیکه ونیسی.

پته: خوست ښار دوهمه ناحیه قوماندانی سرک د جامع مسجد مخا مخ د ښاروالی ریاست اداری تعمیر دریم پوړ.۵۷۳

اطلاعیه کندز

آمریت شفاخانه حوزوی ریاست صحت عامه ولایت کندز از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در پروسه های داوطلبی بخش های :

۱- ۱۳۴ قلم وسایل نل دوانی تضمین آفر مبلغ ۶۷۰۰۰ شش صدو هفت هزار افغانی.

۲- ۵۷ قلم وسایل برق تضمین آفر مبلغ (۱۱۴۰۰۰) یک صدو چهارده هزار افغانی.

۳- ۴۹ قلم قرطاسیه باب تضمین آفر مبلغ (۴۰۰۰۰) چهل هزار افغانی.

٤- ۴۷ قلم مواد پاک کننده تضمین آفر مبلغ (۲۲۰۰۰۰) دو صدو بیست هزار افغانی.

٥- یک قلم گاز مایع تضمین آفر (۴۸۰۰۰) چهل هشت هزار افغانی

مورد ضرورت یک ساله این اداره اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه را در مقابل (۱۰۰۰) یک هزار افغانی پول غیر قابل بازگشت از مدیریت تهیه و تدارکات شفاخانه حوزوی کندز بدست آورده شرطنامه را ملاحظه و مطابق شرطنامه آفر سر بسته خویش را بعد از نشر اعلان الی مدت ۲۱ روزتقویمی تسلیم نموده آفرهای دیر رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمیباشد.

قابل یاد آوریست تضمین آفر بصورت نقدی و یا گرنتی بانکی از بانک معتبر در مجلس آفرگشایی که در تالار کنفرانس های شفاخانه حوزوی کندز دایر می گردد تسلیم نمایید. همچنان روز مشخص مجلس آفرگشایی درج شرطنامه می باشد.۲۰۲۶

اطلاعیه کندز

ریاست شاروالی کندز از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (کانکریت ریزی کوچه های شهرک قهوه خانه) اشتراک نموده و نقل چاپ شده شرطنامه مربوطه را در مقابل پرداخت مبلغ ۱۰۰۰ یک هزار افغانی پول غیر قابل بازگشت از مدیریت قرار داد های ریاست شاروالی بدست آفر های خویش را مطابق مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز تقویمی به مدیریت قرار داد های ریاست شاروالی ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر بصورت نقدی مبلغ ۶۰۰۰۰۰ شش صد هزار افغانی بوده و جلسه آفرگشایی بعد از ختم اعلان در تالار جلسات ریاست شاروالی کندز تدویر میگردد.۲۰۲۵

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه سند یک نمره زمین واقع ولایت میدان وردگ پروژه کوتل تخت به نام احمد خان فرزند سعد الله خان ولدیت رحمت الله نمبر زمین ۳۱۷۰ مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۵۴۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فریده محمدی بنت محمد داود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۴۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجیبه توکلی بنت عوض مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۴۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مرتضی محمدی فرزند محمد داود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۴۰۴۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم راضیه احمدی بنت رمضان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۵۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد امین احمدی فرزند رجب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۵۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی سجاد احمدی فرزند محمد امین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۵۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مهدی احمدی فرزند محمد امین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۵۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله بشری فرزند عبدالعلی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۶۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نوراحمد بشری فرزند عبدالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۶۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جمیله بشری بنت عبدالله خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۶۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام علی جعفری فرزند قربان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۵۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی آغا فرزند علی یاور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۵۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خالد صافی فرزند عاشق زمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۹۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم لیلا احمدی بنت سلیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۹۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی جعفری فرزند حیدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۹۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فرهاد سلطانی فرزند سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۹۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم روح الله طاهری فرزند عبدالحمید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۹۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امید احمدی فرزند محمد رسول مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۷۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم راز محمد ملا فرزند نور محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۸۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسین احمدی فرزند جعفر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۸۱

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی اکبر نوری فرزند نورالحق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۸۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم داود سروری فرزند سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۸۳

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام علی صوفی زاده فرزند خدمت علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۸۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالستار سادات فرزند سید عبدالوهاب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۸۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ظاهر قربانی فرزند محمد هاشم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۸۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جلات خان کجیروال فرزند محمد جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۸۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ذبیح الله امان فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۸۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد انور مومند فرزند محمد افضل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۱۱۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اکرام خان شینواری فرزند عسکر خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۲۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم چمن علی علیزاده فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۲۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی داد مبارز فرزند غلام حیدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۲۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نصیب الله مومند فرزند لورگنی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بسم الله حیدری فرزند محمد نعیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۲۸

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خلیل حیدری فرزند میرزا حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۲۹

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد حضرتی فرزند فیض محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۳۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قربانعلی احمد علی فرزند احمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۳۰۳۱

زموږ ملي اقتصاد په خپله ...

له کاریدو هم ځان ساتلی وي چې اکثریت په غیر مسلمو هیوادونو کې جوړیږي.

موږ او تاسو ټولو(مسئولو او غیر مسئولو کسانو) ته یکار ده چې اول ځان د خپل هېواد د محصولاتو، مصنوعاتو او تولیداتو په کارېدلو مکلف کړو، وروروسته نور هغه کسان پوه کړو او بلنه ورکړو چې هغوی له دغه فرصته ناخبره وي. د دې پر ځای چې په خپلو خوښیو او چکرونو کې له بهرنیو توکو استفاده وکړو، ښه داده چې د خپل هېواد توکي وکاروو، په دې سره به مو کرار ـ کرار د خپل هېواد د اقتصاد لوېدلی حالت راپورته کړی وي.

په همدې هیله

میدان وردګو کې ۶ پروژې ...

به یې د دغه ولایت اوسېدونکي د پرانیستې شاهدان و اوسي. په ورته مهال د میدان وردګو مرستیال والي په دغه برنامه کې په میدان وردګو ولایت کې د اوبو سرچینو د کموالي د یادونې ترڅنګ، د دغو پروژو اهمیت حیاتي وباله. له بلې خوا د میدان وردګو د اوبو او انرژۍ رئیس د پروژو په هکله معلومات وړاندې کړل او د دغو پروژو پلي کول یې د اوبو د مدیریت او د کرنې د ودې په برخه کې اړین وبلل. د یادونې وړ ده، چې دغه پروژې د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې سازمان (ایف،اې، او) په مالي تمویل سره د اوبو او انرژۍ وزارت تر څارنې لاندې پلې شوې، چې پکې د میدان وردګو ولایت په نرخ ولسوالۍ کې درې چکډېمونه، یو ذخیروي حوض او د اوبولګولو یو کانال او په جغتو ولسوالۍ کې د شیخ علي کانال جوړونه شامله ده. د دغو پروژو په پلي کولو سره د اوبو د مدیریت، د ځمکې لاندې اوبو د پیاوړتیا او د کرنیزو ځمکو د خړوبولو په برخه کې یو مثبت ګام اخیستل شوی، چې سلګونه کورنۍ ورڅخه ګټه پورته کوي.

پنجشېر کې د زمردو ...

چې له دې کانونو څخه د پنځو کانونو د قانوني مرحلو له بشپړولو او د رسمي جواز له اخیستو وروسته عملي استخراج پیل شوی دی. د ښاغلي امیري په وینا، د دغو کانونو له استخراج سره نږدې ۱۰۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شوې او اوس هم د نورو ساحو د جواز اخیستو او چمتووالي چارې رواني دي.نوموړی وایي: تر دې دمه له ۱۷۰۰ ثبت شویو کانونو څخه له ۶۰۰ څخه ډېرو د فعالیت جوازونه ترلاسه کړي او شاوخوا ۱۸۰ کانونه په عملي ډول د استخراج په حال کې دي.

نوموړي د دغو کیندنو موخه د زمردو د تولید زیاتول، د صادراتو پراخول او د ځایي خلکو د اقتصادي حالت ښه والی یاد کړې.باید وویل شي، چې د پنجشېر ولایت د زمردو له مهمو او غني سیمو څخه ګڼل کېږي.

کونړ؛ شیګل ولسوالۍ ...

خو دوی ته د ملي دفاع وزارت له لوري ورکړ شوی او د شیګل په خوړ د لچې په سیمه کې یې د ځای پر ځای کېدو پر مهال ۳ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی، چې ورسره سلګونو کورنیو ته د تګ راتګ اسانتیاوې رامنځته شوې دي. دغه راز د یادې سیمې قومي مشر مولوي بهرام سید د یاد پله پر جوړېدو خوښي څرګندوي او وایي چې له دې وړاندې په یاده سیمه کې سېلابونو مېرمنې، کوچنیان او ځوانان وړي او اوس یې دغه ویره ختمه شوې ده.یاده دې وي چې له دې وړاندې هم د ټولګټو چارو ریاست د کونړ پر رسا سیند او د پیچ درې پر سیند ورته پلونه جوړ کړي دي.

زرو مکروریانو کې ...

خدمتونه هم وړاندې شوي دي. ښاغلي کارګر زیاته کړې، چې د نویو تذکرو د وېش تر څنګ، د پېژندپاڼو اصلاح، نوي کول او د ودونو ثبت هم په یاد مرکز کې فعال خدمتونه دي. د احصایې او معلوماتو ملي اداره وایي، چې د آسان خدمت مرکزونه د عامو خلکو د اسانتیا لپاره جوړ شوي، څو هېوادوال وکولای شي په لنډه ممکنه موده کې له بېلابېلو دولتي خدمتونو برخمن شي.

لوګر کې د فوټسال پیل شوې ...

د لوګر د خورشید نوشهر او سیدانو لوبډلو لاره موندلې وه، چې خورشید نوشهر لوبډلې وکولای شول خپلې سیالې لوبډلې ته ماته ورکړي او اتلولې په خپل نوم کړي. نعیم زي زیاته کړه: د یادې سیالۍ له جوړېدو څخه موخه لوګر ولایت کې فوټسال ورزش ته وده ورکول، د ورزشکارانو ترمنځ د تجربو شریکول او همغږۍ رامنځته کول وو. د جوړو شویو سیالیو یوه ګډونوال احمد ولید رسنیو ته ویلي: دا ډول سیالۍ کولای شي چې د لوګر په کچه د فوټسال ورزشکارانو ترمنځ اړیکي او د ظرفیت کچه لوړه کړي. ده د فوټسال په فدراسیون غږ وکړ چې د لوګر ولایت د ورزشکارانو شته ستونزو ته رسیده ګي وکړي او د ورته سیالیو جوړېدو زمینه ورته برابره کړي.هېره دې نه وي چې د یادو سیالیو په پای کې په غوره لوبډلو او لوبغاړو بېلابېلې ډالۍ هم ووېشل شوې.

غزني کې د ټرافیکي پېښې ...

د چلوونکو بې‌احتیاطي، خراب سړکونه، ګړندی تګ او د ټرافیکي اصولو نه‌مراعاتول بلل کېږي. بله خوا د اسلامي امارت مسئولینو بار بار له چلوونکو غوښتي، چې د هر ډول سفر پرمهال احتیاط وکړي او د مسافرو ژوند وژغوري. څه موده مخکې د ټرانسپورټ او ملکي هوایي چلند وزارت په هېواد کې د ټرافیکي پېښو د مخنیوي په موخه په مسافر وړونکو موټرو کې د ۸ زره «جي پي اېس» آلو د نصب خبر هم ورکړی و.

هېواد کې ۲۶۴۰ غیر امارتي ...

کې دي.دې سره هممهاله د اقتصاد وزارت ویاند عبدالرحمن حبیب وویل: تېر کال د بودیجوي واحدونو له خوا په ټول هېواد کې ۳۷۰ پراختیایي پروژې چې ۸۷۳ په کې فرعي دي شاملې او عملي شوي دي، په دې کې ۱۴۲ نوې پروژې شاملي دي او ۲۲۸ یې انتقالي دي. د ۹۱ پروژو فزیکي کارونه بشپړ شوي دي. همدارنګه ۲۶۴۰ غیر امارتي موسسې چې ۲۳۶۰ یې کورنۍ او ۲۸۰ یې بهرنۍ انجوګانې دي په بېلابېلو سکټورونو کې په هېواد کې فعالیت لري. د نوموړي په وینا په تېر یوه کال کې د هېواد په کچه، د ۶۹۵.۷ میلیونو ډالرو په ارزښت د غیر دولتي کورنیو او بهرنیو مؤسسو له لوري ۱۳۱۱ بېلابېلې پروژې پلې شوې دي، چې په بهیر کې یې زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

چې اقتصاد مو په څو هېوادونو پورې تړلی پاتې نه شي، نو د پیاوړو بنسټیزو برنامو په لرلو سره مو اقتصادي او د همکارۍ اړیکې د سیمې او نړۍ هېوادونو سره وغځولې. د نظري په خبره د هېواد د اقتصاد وده باید پیاوړې او پایښت لرونکې اوسي. د صنعت وده د اسلامي امارت لپاره په لومړیتوب کې ځای لري چې وکولای شو په کم وخت کې د هېواد صنعت اقتصادي ودې ته ورسوو، په کور دننه د فابریکو فعالیت په کیفیت روان دی او د پرمختګ په حال

زیارمل هوتک

د پکتیکا پوهنتون ...

بنسټونو ته پاملرنه ډېره مهمه ده او اسلامي امارت باید لا هم په دې برخه کې هڅې زیاتې کړي.

نوموړي زیاته کړه چې د پکتیکا پوهنتون لا هم زیاتې پاملرنې ته اړتیا لري.

همداراز د یاد ولایت د کور او ښار جوړولو رئیس مولوي محمد طاهر سیف‌الجهاد وویل چې پوهنتون ته د نوي ماستر پلان له مخې ۳۴۰ جریبه ځمکه ځانګړې شوې، ځکه چې پخوانۍ ځمکه د اړتیا وړ ځای نه و.

رفیق‌الله او ریحان چې د یاد پوهنتون محصلین دي وایي چې د احاطې په جوړېدو سره به د استادانو او زده‌کوونکو لپاره خوندي او ارام چاپېریال برابر شي او دا به د پوهنتون د شنو ساحو او نورو اړوندو برخو په ساتنه کې اغېزناک وي.

د شپږیزې لوبلړې ...

شپږیزې ووهلې. نجیب الله ځدراڼ چې د بایلونکې لوبډلې لوبډلمشر و، په خپلو خبرو کې د ماتې لامل د ډېرو کېچونو خطا کېدل وګڼل او ویې ویل، چې راتلونکو کې به دغې برخې ته پوره پوره پاملرنه وکړي. د لوبې ګټونکې لوبډلمشر شرف‌الدین اشرف بیا وویل چې د پلان مطابق مخته لاړل او بریا یې خپله کړه. د ورځې دویمه لوبه کې بیا مس‌عینک اتلانو د سپین غر پړانګانو پر وړاندې بریا خپله کړه. نوموړې لوبې تر وروستي توپه نامعلومه پایله لرله، چې بالاخره مس‌عینک اتلانو وکولی شول، چې د ۲۰م اور په پنځم توپ لوبه وګټي او لوبه په خپل نوم کړي.د دویمې لوبې غوره لوبغاړی مجیب الرحمن وټاکل شو، چې د ۱۴ منډو په بدل کې یې ۳ لوبغاړي وسوځول. دغې لوبه کې اعجاز احمدزي د ۵ شپږیزو په وهلو سره د زیاتو شپږیزو جایزه او فرمان الله صافي د ستاینلیش لوبغاړي جایزې ترلاسه کړه.

تاج محمد بهار

از ساخت و ساز یک محراب ...

زنان نیز تکمیل شده و کارهای آماده سازی P.C.C همچنان ادامه دارد .به گفته وی، کانکریت ریزی منار سمت جنوب مسجد شریف نیز تکمیل گردیده و سایر کارهای ساختمانی مربوطه به‌گونه منظم ادامه دارد. همچنان کارهای کانکریت ریزی دروازه‌های عمومی جریان دارد و قالب بندی، سیخ بندی و کانکریت ریزی مرحله سوم دیوار احاطوی نیز تکمیل شده است.

د ملګرو ملتونو د کډوالو ...

بحران سره سره، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنر (UNHCR) به د کډوالو او راستنېدونکو د ملاتړ لپاره خپلې هڅې جاري وساتي.ده له نړیوالې ټولنې څخه وغوښتل، چې له بې‌ځایه شویو افغانانو سره د مرستې لپاره خپله ژمنه وساتي. په دې اړه، ملګرو ملتونو د راستنېدونکو د مدیریت او د دوی د اساسي حقونو د تضمین لپاره د دوامدارو میکانیزمونو د جوړولو غوښتنه کړې، په شمول د سرپناه، خوړو او روغتیایي خدماتو ته لاسرسی. کارپوهان وایي چې د ګرانډي سفر کولی شي بحران ته د نړیوالو د پام راجلبولو او د لا اغېزمنو مرستو د همغږي کولو لپاره یو ګام وي.

کابل ښار کې ...

اوبه هم نه لرو. د ملګرو ملتونو د بشري استوګني پروګرام د راپور له مخې، په کابل کې د اوبو د کچې خورا ټیټېدو نږدې شپږ میلیونه کسان د اوبو د کمښت له خطر سره مخ کړي دي. دغه نړیوال بنسټ د اوبو د کمښت ناورین «بې مخینې» بللی او زیاته کړې یې ده چې له دغه ناورین سره د مبارزې لپاره په لویه کچه پانګونې، پیاوړې همکارۍ او د اوبو د کارونې او مدیریت په تړاو د عامه پوهاوي زیاتېدو ته اړتیا ده. بل پلو هېوادوال د افغانستان له اسلامي امارته غواړي، چې د اوبو رسونې د شبکو په جوړولو او د ژورو څاګانو په کیندلو سره د دوی پر ستونزو غور وکړي. د کابل اوسېدونکی، محمد نسیم وایي: «که دا دټېلو ټانک والا موږ ته اوبه را نه کړي، نور یې څوک راکوي هم نه، ماشومان مو ګاوندېیو ته ورځي، خو هغوی یې وهي او ورته وایي تاسې ته اوبه نه درکوو. له اسلامي امارته مو غوښتنه ده، چې موږ ته برمه و وهي چې خپل مال مو وي چې شپه او ورځ ترې اوبه واخیستلی شو.»که څه هم دې مسئلې د پلازمېنې د اوسېدونکو جدي اندېښنې راپارولې، خو د اسلامي امارت مسئولینو تل د دې ستونزو د هوارې په تړاو ډاډ ورکړی.

د جبري راستنېدونکو ...

د خپلو حسابونو د تصفیې او د خپلو املاکو د خرڅلاو یا لېږد لپاره فُرصت ورکړ شي. نوموړي همداراز ویلي، چې حکومت په خپل ټول وس د خپلو خلکو لاسنیوی کوي، خو د خلکو ستونزې خورا زیاتې دي او د نړیوالو ادارو مرستو ته اړتیا لیدل کیږي. په دې کتنه کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ رئیس، فیلیپو ګرانډي ویلي چې دوی به د راابستل کېدونکو وضعیت له نږدې وڅاري او له هغوی سره به په خپل ټول توان مرسته وکړي. ګرانډي همداراز ویلي، چې د ملګرو ملتونو دې ادارې په تېرو څو لسیزو کې له افغان کډوالو سره مرسته کړې او په راتلونکي کې به هم خپلې مرستې جاري ساتي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
دارېکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۴۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

یکشنبه د محرم الحرام ۲٤ مه ۱٤٤۷ق کال ا د چنګاښ ۲۹ مه ۱۴۰٤ ل کال ا د2025م کال د جولای ۲۰ مه

د اقتصاد وزارت:

هېواد کې ۲۶۴۰ غیر امارتي موسسې فعالیت لري

د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو او کړنو د تشریح پروګرام په لړ کې د اقتصاد وزارت د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د یو خبري کنفرانس په لړ کې خپل د تېر کال د کړنو او لاسته راوړنو معلومات رسنیز کړل.

په دې اړه راټولې شوې غونډې ته په وینا کې د یاد وزارت مسلکي مرستیال دوکتور عبداللطیف نظري وویل: د تېر کال په اوږدو کې د اقتصاد وزارت د پام وړ لاسته راوړنې لري، د اقتصادي ودې لپاره تولید اړین دی چې د صادراتو برخو کې هم ورته ګام اخیستل په کار دي، قیمتونه مو کنټرول کړي چې د هېواد اقتصاد زیان ونه ليده. اوسنی عصر د نړیوال پیاوړي اقتصاد کېدلو دی چې یو بل سره سلسله لري، نو موږ هم له پیاوړي اقتصادي مدیریت سره وکولای شول چې اقتصاد مو اغېزمن نه شي. د نوموړي په خبره: له عصر سره سم مو د هېواد د زراعت لپاره ګڼ شمېر تړونونه لاسلیک شوي تر څو مو اقتصاد له دې برخې نه کمزوری نه شي. د زیاترو هېوادونو له لوري هڅه کېدله چې افغانستان له سیمې او نړۍ سره له اقتصادي اړیکو څخه لرې وساتي؛ خو له دې سره بیا هم موږ وکولای شول ... ۳مخ

له یمن څخه پر اسرائیلو توغندیز برید شوی

د اسرائیلو اړوندو رسنیو راپور ورکړی، چې د اسرائیلو هوایي ځواک د جمعې په شپه له یمن څخه توغول شوی توغندی شنډ کړی دی.
په راپورونو کې ویل شوي چې د یاد توغندي له امله د اسرائیلو په مرکزي سیمو، په تل‌ابیب ښار، د شارون سیمه، د شیفله‌تیتې سیمې او د بیت‌المقدس شاوخوا سیمو کې د خطر زنګونه غږول شوي دي. د یاد توغندي د ویشتلو له امله د اسرائیلو بین‌ګوریون نړیوال هوایي ډګر ته الوتنې د لنډمهال لپاره درول شوي دي.
د فلای دوبی یوه الوتکه چې له دوبۍ څخه د اسرائیلو د هوایي حریم پر لور روانه وه الوتنه یې ځنډول شوې وه او نورې الوتنې هم ځنډول شوې دي. د یمن د حوثیانو یوه لوړپوړي

چارواکي حزام الاسد یاد برید ته په اشارې سره ویلي، چې دوی به د غزې خلک یوازې پرې نږدي. حوثیان چې ویل کېږي د ایران ملاتړ له ځان سره لري، په وار وار یې ویلي چې غزه کې د فلسطینیانو په ملاتړ پر اسرائیلو بریدونه کوي او دا بریدونه به د روانې جګړې تر پایه روان وي.

د هرات والي د کډوالو مسئلې په اړه ایران ته تللی

ایراني رسنیو راپور ورکړی، چې د هرات والي شیخ نور احمد اسلام جار د یو پلاوي په مشرۍ ایران ته راغلی دی.

د ایران تسنیم خبري اژانس ویلي: ایران ته د هرات د والي د سفر موخه له ایراني چارواکو سره د اقتصادي مسائلو ترڅنګ د افغان کډوالو د برېرته ستنېدلو په اړه خبرې اترې دي. تسنیم راپور ورکړی، چې اسلام جار به د دوغارون د سوداګرۍ ازادې سیمې څخه د لیدنې ترڅنګ مشهد ته سفر وکړي او له ایراني چارواکو سره به د اقتصادي همکارۍ برخه کې خو سندونه هم لاسلیک کړي.
د هرات والي داسې مهال ایران ته په سفر تللی، چې هره ورځ د اسلام کلا له لارې زرګونه افغان کډوال هېواد ته راستنېږي او د ایراني چارواکو له ناوړه چلند او د هغوی په لاس د خپلو شتمنیو د غصب شکایت کوي.

د پکتیکا پوهنتون احاطوي دېوال جوړېږي

د پکتیکا پوهنتون مسئولینو د لوړو زده کړو وزارت په مالي ملاتړ د ۱۷.۵ میلیونو افغانیو په لګښت د پوهنتون لپاره د احاطوي دېوال د جوړېدو چارو د پیل کېدو خبر ورکړی دی.
په جوړو شویو مراسمو کې د پکتیکا د پوهنتون رئیس مولوي شېر احمد عباس وویل: «د پوهنتون د احاطې جوړول د محصلینو لپاره د خوندي چاپېریال رامنځته کولو، د شنو ساحو، ونو او نورو توکو د

ساتنې لپاره اړین دی». ورته مهال د یاد ولایت د علماوو شورا رئیس شیخ عبدالقدوس اعظمي وویل چې اکاډمیکو ... ۳مخ

د شپږیزې لوبلړۍ په لومړۍ ورځ آمونهنګان او مس‌عینک اتلان ګټونکي شول

د شپږیزې کرکټ لوبلړۍ د لومړۍ ورځې دوه لوبې چې لومړۍ یې د آمونهنګانو او د بست ساتونکو ترمنځ وه، امونهنګان بریالي شول او دویمه یې د سپین‌غر پړانګانو او مس‌عینک اتلانو ترمنځ وه، چې د مس‌عینک اتلانو لوبډلې بریا ترلاسه کړه. لومړۍ پانۍ کې د لوبې د زیاتو شپږیزو وهونکي، ستاېلش، بدلوونکي او غوره لوبغاړي درېواړه جایزې عمران‌میر واخیستلې، چې نسبت نورو ته یې زیاتې منډې او ډېرې ... ۳مخ

اسلامي امارت د دیني او عصري زده‌کړو پراختیا غواړي

د لوګر د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له لوري د «حاجي منګل احمدزي» خیریه بنسټ په مالي ملاتړ په خروار ولسوالۍ کې پر شاوخوا ۴۰۰ بېوزلو زده‌کوونکو درسي توکي ووېشل شول. په دې تړاو جوړو شویو مراسمو ته د لوګر د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس رفیع‌الله صمیم وویل: اسلامي امارت د ټول هېواد په کچه هڅه کوي، چې پر دیني زده‌کړو سربېره عصري زده‌کړو ته هم پراختیا ورکړي. صمیم زیاته کړه: افغانان هم حق لري چې د نړۍ په څېر په عصري زده‌کړو کې ښې لاسته‌راوړنې ولري او له ځوانانو یې وغوښتل چې خپلو لوړو زده‌کړو ته دوام ورکړي. بلە‌خوا د حاجي منګل خیریه بنسټ یوه غړي وسیم وصال وویل: «موږ په تېرو څو کلونو کې لوګر کې سلګونو بېوزلو زده‌کوونکو ته چې نجونې هم په‌کې شاملې

دي، د عصري او دیني زده‌کړو زمینه برابره کړې ده.» ده زیاته کړه: هڅه کوي، چې د لوګر په مرکز او پاتې ولسوالیو کې هم د پوهنې برخه کې خپلو مرستو او هڅو ته دوام ورکړي. هېره دې نه وي چې یاد بنسټ په تېرو کلونو کې هم یو شمېر ښوونځیو ته د څښاک د پاکو اوبو د سیستمونو او د بیارغولو برخه کې د پام وړ همکاري کړې ده.

غزني کې یو سړک جوړېږي

د غزني سیمه ییزو مسئولینو د دغه ولایت په مرکز کې د ۸ میلیونو افغانیو په لګښت د یوه سړک د جوړولو چارو د پیل کېدو خبر ورکړی دی. د غزني ښاروالۍ مسئولینو باختراطلاعاتي آژانس ته ویلي چې دغه سړک د یاد ولایت د لومړۍ ناحیې اړوند حیات آباد سیمه کې د ملګرو ملتونو د پروژوي دفتر په مالي ملاتړ د ۸ میلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي چې چارې به یې په درېوو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.
د سرچینې په وینا یاد سړک ۶۰۰ متره اوږدوالی او ۶ متره سور لري، چې د جوړېدو پرمهال به یې لسګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي. د یادونې وړ ده، چې د یاد سړک په جوړېدو سره به د یادې سیمې د اوسېدونکو ټرانسپورټي ستونزې حل شي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنر کابل ته راورسېد

د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنر فیلیپو ګرانډي پرون کابل ته راغی، ترڅو د افغان کډوالو او راستنېدونکو وضعیت وڅېړي. د اسلامي امارت د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت په وینا، ګرانډي به د دې سفر په جریان کې د اسلامي امارت له چارواکو سره وګوري او د راستنېدونکو اړوندو مسئلو باندې به تمرکز وکړي. دی پلان لري، چې هرات ته هم سفر وکړي، ترڅو د اسلام کلا پولې له لارې افغانستان ته د کډوالو د ننوتلو وضعیت له نږدې وګوري.
دا سفر په داسې وخت کې کېږي چې هره ورځ زرګونه افغان کډوال له ګاونډیو هېوادونو، په ځانګړې توګه له ایران او پاکستان څخه ایستل کېږي. دا کډوال اکثراً په سختو شرایطو او له کافي اسانتیاوو پرته هېواد ته راستنېږي، چې د افغانستان پر محدودو سرچینو یې لوی فشار راوړی دی. ګرانډي ټینګار وکړ، چې له نړیوال مالي ... ۳مخ

از ساخت و ساز یک محراب مسجدشریف در ولسوالی سیدآباد نظارت صورت

مولوی عبدالقیوم سیف العمر رئیس شهرسازی و مسکن ولایت میدان وردگ می گوید که تیم تخنیکی مربوط این ریاست از ساخت وساز مسجد شریف در ولسوالی سیدآباد نظارت کرده است. مولوی سیف العمر افزود: در جریان ارزیابی مشخص شد که سقف کانکریتی گنبد مسجد تکمیل شده و سایر کارهای ساختمانی مطابق نقشه به پیش می رود. وی اضافه کرد: بولدر ریزی برای مسجد جداگانه ... ص۳

زابل کې لسګونو کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې

د زابل د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولین وایي، چې د دغه ولایت په شاه جوی ولسوالۍ کې د اوبو رسولو د دوو شبکو په جوړېدو سره د سیمې ۱۱۱ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي.
د یاد ولایت د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مطبوعاتي مسئول حافظ عبدالحلیم فرقاني باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې د اوبو رسولو دغه شبکې د یادې ولسوالۍ په خاکي او غبرګي خاکي کلیو کې د یونیسف په مالي ملاتړ د ۶ میلیونو افغانیو په لګښت جوړې شوې، چې پر مټ یې د سیمې ۱۱۱ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي. ورته مهال د سیمې اوسېدونکي د یادو شبکو په جوړېدو خوښي څرګندوي او وایي چې د دغو شبکو په جوړېدو سره به یې د څښاک اوبو په برخه کې شته ستونزې حل شي.

کابل ښار کې د اوبو د کمښت په اړه اندېښنې

د افغانستان پلازمینه کابل دا مهال د اوبو له ناورین سره مخ ده. د شمېرو له مخې د کابل په ډېرو مرکزي او لوېدیځو سیمو کې د اوبو کچه خورا ټیټه شوې او دې مسئلې د کابل د میلیونونو اوسېدونکو ژوند له ستونزو سره مخ کړی دی. د کابل اوسېدونکی محمد اغا وایي: هر کار له اوبو سره دی، چې دلته اوبه نه وي زموږ ژوند ډېر سخت دی. دا د تلو ټانک که نه وي، خلک به له لوږې او تندې مړه شي. د کابل اوسېدونکی، نجیب‌الله هم وایي: ماشومان او ښځې شپه او ورځ بوشکې په لاس ګرځي، خو اوبه نه پیدا کېږي. دلته یوه ښځه راغله ویل یې: نن بېخي... ۳مخ

المان او ۵ نور اروپایي هېوادونه د افغان او سوریایي کډوالو پر اېستلو سلا شوي

د المان د کورنیو چارو وزیر د فرانسې، پولنډ، اتریش، چک او ډنمارک او همداراز د اروپايي ټولنې د کورنیو چارو له کمېشنر سره په کتنه کې د پناه غوښتونکو د قوانینو د سختولو لپاره پر یوې طرحې هوکړه کړې ده. د دې طرحې له مخې، د افغانستان او سوریې اوسېدونکي به په عادي توګه له دغو هېوادونو اېستل کېږي. په دغې هوکړه کې له اروپايي ټولنې بهر خوندي مرکزونو ته د رد شویو پناه غوښتونکو د لېږدولو لپاره د قانوني خنډونو لرې کول او په درېیمو هېوادونو کې د پناه غوښتنې د پروسیجرونو فعالول شامل دي او همداراز به هغه هېوادونه چې په دې بهیر کې له اروپايي ټولنې سره همکاري نه کوي پر اتباعو یې د ویزې محدودیتونه ولګول شي.